داکتر محمدآجان مرزی

۲۰۱۶/۰۲/۰۵

# د غم نظمونه

لمبې د حسرت ګورم د ناورین لوی سیلابونه
هر خوا بل دي اورونه د قسمت بد تصویرونه

فریاد په سینه بند لاړي دي بندې په هر لورې
دردونه په هر زړه د لارو مل دي ډېر غمونه

اوراقو د تقدیر کې لــه بیلتون بل څه نه وینم
بیتونه ښکلي نشته هـــر طرف د غم نظمونه

رڼا ورځ تـــوره شپه ده پلوشې د هیلو ورکې
د اوښکو په باران کـې د هستئ پراته دردونه

لمن د آسمان سره پـه توره تُوره د تورتم شوه
آواز د توروشپو راوړل د مرګ نوي سازونه

د نوي نسیم بـاد تــه تم اولس لـــه ډېره وخته
ړنګیږي ئې کورونه ورک تیاروکې ارمانونه

بیګاه تــه چې نظر کړم د سبا لــه غم بیریږم
له بدو چې لا بد شي دا زموږ دي تقدیرونه

بــا دونو د خزان کي يـو راګير له ډېره وخته
ربباره راشه راوړه د سپرلی نـــور پيغامونه




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ